MACMILLAN CANCER SUPPORT

Claiming benefits when you have cancer: Pashto

# د سرطان په وخت کې د ګټو غوښتنه

دغه معلومات د سرطان لرلو پر مهال د ګټو غوښتنې په هکله دي. لاندې موارد تر پوښښ لاندې نیسي:

- ګټې څه ته وایي؟
- که تاسو په برېتانیا کې نه وئ زیږېدلي
- که تاسو مراقبت یا د خوځښت اړتیاوې لرئ
- که تاسو نشئ کولای کار وکړئ یا مو عاید کم وي
- که تاسو د سرطان لرونکي کس څخه مراقبت کوئ
- د هستوګنې له لګښتونو سره مرسته
- که تاسو د تقاعد په عمر کې یاست
- بیا به څه کوئ
- ستاسو لپاره سم مراقبت او ملاتړ
- Macmillan څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي
- ستاسو په ژبه کې نور معلومات
- حوالې او مننه

موږ هیله من یو دغه معلوماتي پاڼه به ستاسو پوښتنې ځواب کړي.

تاسو همدارنګه کولای شئ د Macmillan د سرطان له ملاتړ سره د **0808 808 00 00** وړیا شمېرې له لارې 7 ورځې په اونۍ کې، د سهار له 8 بجو څخه د ماښام تر 8 بجو پورې اړیکه ونیسئ. موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. کله چې تاسو موږ ته زنګ وهئ، مهرباني وکړئ موږ ته په انګلیسي کې ووایاست چې کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

همدارنګه په نورو ژبو باندې هم په **macmillan.org.uk/translations** کې معلومات شتون لري

## ګټې څه ته وایي؟

ګټې د حکومت له خوا د هغو خلکو لپاره مالي مرستې دي چې د خپل ژوند په لګښتونو کې مرستې ته اړتیا لري. کله چې تاسو سرطان لرئ، تاسو ښایي وکولا شئ ګټې ترلاسه کړئ که چېرې:

- تاسو ناروغ یاست
- معلولیت لرئ
- عاید مو ټیټ وي
- له کوم چا څخه مراقبت کوئ

بېلابېلې ګټې شتون لري. ځینې عام ډولونه یې دلته تشریح شوي دي.

## که تاسو په برېتانیا کې نه وئ زیږېدلي

تاسو ښايي ونشئ کولای ځيني ګټې ترلاسه کړئ که چېرې تاسو:

- له بل هېواد څخه بریتانیا ته کار کولو یا ژوند کولو لپاره راغلي یاست
- د پناه غوښتنې په لټه کې یاست.

په قوانینو پوهاوی ستونزمن دی او په دې پورې اړه لري چې تاسو او ستاسو کورنۍ په کوم هېواد پورې اړه لري. تاسو کولای شئ له Macmillan سره په **0808 808 00 00** شمېره اړیکه ټینګه کړئ او د مشورې لپاره د هوساینې د حقونو له کوم مشاور سره خبرې وکړئ.

## که تاسو مراقبت یا د خوځښت اړتیاوې لرئ

که تاسو د ایالت د تقاعد له عمر څخه پورته یا ټیټ یاست، هغه ګټې چې تاسو يې غوښتنه کوئ متفاوتې دي. دغه عمر په دې پورې اړه لري چې تاسو کله زیږېدلي یاست. تاسو کولای شئ د ایالت د تقاعد لپاره خپل عمر په **gov.uk/state-pension-age** کې ومومئ

- **د شخصي خپلواکۍ تادیه**د هغو خلکو لپاره ده چې د ایالتي تقاعد لپاره يې د 16 کلنۍ عمر يې پوره کړی وي او په خپل ورځني ژوند کې له ستونزو سره مخ وي. تاسو باید دغه ستونزې لږ تر لږه د 3 میاشتو لپاره لرلې وي. تاسو باید تمه ولرئ چې دغه ستونزې لږ تر لږه 9 میاشتې دوام مومي.

- **د حاضرۍ مرسته** د هغو خلکو لپاره ده چې د دولت د تقاعد عمر يې پوره کړی وي یا يې عمر ځنې لوړ وي. دا مرسته د هغو خلکو لپاره ده چې له خپل ځان څخه مراقبت کوي. دا کېدی شي د ناروغۍ یا معلولیت له امله وي. د بېلګې په توګه، تاسو کېدی شي په ځینو کارونو کې لکه د خوب له تخته کوزیدو کې، حمام کولو کې یا جامو اغوستلو کې مرستې ته اړتیا ولرئ. تاسو باید لږ تر لږه 6 میاشتې دغه مرستې ته اړتیا لرلې وي.

که ستاسو د سرطان علاج نه کېږي، تاسو ښايي وکولای شئ د ځانګړو قوانینو په اساس د شخصي خپلواکتیا یا د حاضرۍ د مرستې تادیات ترلاسه کړئ. دغه قوانین په دې مانا دی چې تاسو به دغه مزایاوې په چټکه او لوړه کچه ترلاسه کړئ. ستاسو ډاکټر یا نرس کولای شي په دې برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي.

## که تاسو نشئ کولای کار وکړئ یا مو عاید کم وي

- **د ناروغۍ قانوني تادیه** د هغو خلکو لپاره ده چې اړتیا لري د ناروغۍ له امله خپل کار ته لاړ نه شي. که تاسو د دې لپاره په شرایطو برابر یاست، ستاسو ګومارونکی به دغه تادیه هره اونۍ تاسو ته درکوي. دغه مرسته به ستاسو د ناروغۍ تر 28 اونیو پورې تاسو ته درکول کېږي.

- **د کارموندنې او ملاتړ مرسته** د هغو خلکو لپاره ده چې د ایالت د تقاعد عمر يې نه وي پوره کړی او داسې ناروغي یا معلولیت ولري چې د هغوی په کاري وړتیاوو باندې اغېز کوي. تاسو ښايي وکولای شئ دغه مرسته په هغه صورت کې ترلاسه کړئ چې یوازې لږ مقدار کار کولای شئ.

- که تاسو ډېرې پیسې نه ګټئ یا نشئ کولای کار وکړئ، تاسو ښايي وکولای شئ **Universal Credit** ترلاسه کړئ. دا به په دې پورې اړه ولري چې تاسو چېرې اوسېږئ. د درخواست کړلو طریقه په دې پورې اړه لري چې تاسو چېرې اوسېږئ. که تاسو په انګلستان، سکاټلنډ او ویلز کې ژوند کوئ، **gov.uk/universal-credit** ته مراجعه وکړئ او که په شمالي آیرلنډ کې ژوند کوئ، **nidirect.gov.uk/universal-credit** ته مراجعه وکړئ

## که تاسو د سرطان لرونکي کس څخه مراقبت کوئ

- **د مراقبت کوونکي لپاره مرسته**د هغو خلکو لپاره ده چې له داسي چا څخه مراقبت کوي چې مراقبت ته ډېره اړتیا لري. تاسو باید 16 کلن یا لوړ وئ. تاسو باید له یاد شخص څخه په اونۍ کې لږ تر لږه 35 ساعته مراقبت وکړئ. تاسو باید له هغوی سره تړاو ونلرئ یا ژوند ورسره ونکړئ. تاسو کولای شئ دغه امتیازات ترلاسه کړئ حتي که له تادیي سره نور کار هم کوئ.

- **د مراقبت کوونکي کرېډېټ** تاسو ته پیسي نه درکوي. اما له تاسو سره مرسته کوي چې په راتلونکي کې د ایالت د تقاعد په تړاو ستاسو حقونه خوندي کړي. د دې مرستي د ترلاسه کولو لپاره تاسو باید لږ تر لږه له یوه کس څخه په اونۍ یا ډېره موده کې د 20 ساعتونو لپاره مراقبت وکړئ.

## د هستوګنې له لګښتونو سره مرسته

- **د هستوګنې امتیازات** که تاسو لږ عاید لرئ، د کرایي په تادیه کې له تاسو سره مرسته کوي. هغه مقدار پیسي چې تاسو یې ترلاسه کوئ په دې پوره اړه لري چې چېرې اوسېږئ، عمر مو څومره دی او څومره د خوب اطاقونه لرئ. یونیورسل کرېډېټ (UC) په ډېرو مواردو کې د هستوګنې د امتیازاتو بیدل کرځېدلی دی.

- که تاسو کولای شئ **یونیورسل کرېډېټ** ترلاسه کړئ، تاسو ښایي وکولای شئ د خپلي کرایي د ورکړې یا د هستوګنې د نورو لګښتونو لپاره نغدي مرسته ترلاسه کړئ.

## که تاسو د تقاعد په عمر کې یاست

- **ایالتي تقاعد** یوه اونیزه تادیه ده چې تاسو یې ځانګړي عمر ته په رسېدو سره په اونۍ کې یو ځل ترلاسه کوئ.دغه عمر په دې پورې اړه لري چې تاسو کله زیږېدلي یاست. تاسو کولای شئ د ایالت د تقاعد لپاره خپل عمر په **gov.uk/state-pension-age کې ومومئ**

- **د تقاعد کرېډېټ** د هغو خلکو لپاره دی چې د تقاعد عمر ته رسېدلي وي او د عاید کچه یې ټیټه وي. دغه کرېډېټ تاسو ته ستاسو د ایالتي تقاعد سربېره اضافه پیسي درکوي.

## بیا به څه کوئ

په دغه معلوماتو کې، موږ یوازې د ځینو هغو امتیازاتو په هکله خبرې وکړې چې موجود دي. که غواړئ پوه شئ چې ایا کولای شئ د نورو امتیازاتو لپاره درخواست وکړئ، دا بهتره ده چې زموږ د هوسایني د حقونو له یوه سلاکار سره خبرې وکړئ. تاسو کولای شئ موږ ته په وړیا توګه په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ. موږ کولای شو تاسو ته ډېر معلومات درکړو چې د کومو امتیازاتو لپاره وړ یاست چې درخواست وکړئ. موږ همدارنګه له تاسو سره د درخواست کولو په برخه کې مرسته کولای شو.

تاسو کولای شئ اضافي معلومات ترلاسه کړئ او د ګټو لپاره په آنلاین ډول درخواست وکړئ. مراجعه وکړئ:

- **gov.uk** که تاسو په انګلستان، سکاټلنډ یا ویلز کې ژوند کوئ
- **nidirect.gov.uk** که تاسو په شمالي آیرلنډ کې ژوند کوئ.

## د خپل ځان لپاره د سمې پاملرنې او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسو سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه خبرې نه کوئ، تاسو ښایي اندېښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او مراقبت باندې اغېز وکړي. اما ستاسو د روغتیاپالنې ټیم باید تاسو ته داسې مراقبت، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهېږو چې ځینې وختونه خلک ښایي د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د بېلګې په توګه، که تاسو کار کوئ یا کورنۍ لرئ نو دا به سخته وي چې د روغتون ملاقاتونو ته د تګ لپاره وخت ولرئ. تاسو همدارنګه ښایي د پیسو او د ترانسپورټي لګښتونو په اړه اندېښنه ولرئ. دغه ټول شیان سټرېس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

اما مرسته شتون لري. زموږ د مرستې وړیا تلفوني کرښه **0808 808 00 00** کولای شي ستاسو د وضعیت په هکله، ستاسو په ژبه، تاسو ته لارښوونې وړاندې کړي. تاسو کولای شئ له نرسانو، مالي لارښوونکو، د هوسایني د حقونو له مشاورینو او د کار د ملاتړ له مشاورینو سره خبرې وکړئ.

موږ همدارنګه په سرطان باندې د اخته کسانو لپاره د Macmillan Grants مرستې وړاندې کوو. دغه یو ځلي تادیات دي چې د روغتون د پارکېنګ، سفري لګښتونو، د ماشوم د مراقبت یا د ګرمولو د بېلونو په شان شیانو لپاره استفاده ځنې کېږي.

## Macmillan څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي

په Macmillan کې، موږ پوهېږو چې د سرطان تشخیص څنګه د ژوند په ټولو چارو اغیز کولی شي، او موږ دلته ستاسو د مرستې لپاره یو.

**د Macmillan د ملاتړ مرکز تلفوني کرښه**

موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولای شئ له موږ سره په خپله ژبه باندې خبرې وکړئ. یوازې موږ ته په انګلیسي ژبه د هغې ژبې په هکله وواياست چې تاسو خبرې پرې کوئ. موږ کولای شو د طبي پوښتو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړو، د مالي مرسته په هکله معلومات درکړو، او که غواړئ له چا سره خبرې وکړئ، موږ ستاسو غوښتنو ته غوږ ونیسو. د تلفون وړیا او محرمه کرښه په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو د شپې تر 8 بجو پورې پرانېستې ده. موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ

**وېب چېټ**
تاسو کولای شئ موږ ته د  وېب چېټ پیغام واستوئ او موږ ته ووایاست چې ژباړن ته اړتیا لرئ. موږ ته په انګلیسي کې د هغې ژبې په هکله ووایاست چې اړتیا ورته لرئ، او زموږ کس به له تاسو سره اړیکه ونیسي. په ‘Chat to us’ بټنه باندې کلېک وکړئ چې د وېب پاڼې په ټولو پاڼو باندې ښکاري. یا **macmillan.org.uk/talktous** ته لاړ شئ

**د Macmillan وېب پاڼه**
زموږ وېب پاڼه د سرطان په هکله په انګلیسي ژبه ډېر معلومات لري. همدارنګه په نورو ژبو باندې هم په **macmillan.org.uk/translations** کې معلومات شتون لري

موږ همدارنګه کولای شو یوازې ستاسو لپاره د ژباړې خدمات وړاندې کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** باندې برېښنالیک واستوئ.

**د معلوماتو مرکز**
زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تلفون په مرکزونو کې دي. د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زموږ یوه معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او مخامخ له یو چا سره خبرې وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز په **macmillan.org.uk/informationcentres** کې ومومئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د ملاتړ محلي ګروپونه**
د ملاتړ په ګروپ کې، تاسو کولا شئ له نورو  هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. په خپله سیمه کې د ملاتړ د ګروپونو په هکله په **macmillan.org.uk/supportgroups** کې معلومات ولولئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د Macmillan آنلاین ټولنه**
تاسو  همدارنګه کولای شئ په آنلاین ډول له نورو  هغو خلکو سره چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي د **macmillan.org.uk/community** له لارې خبرې وکړئ چې تاسو کولای شئ د شپې یا ورځې په هر وخت کې لاسرسی ورته ولرئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو د پوستونو له لارې معلومات ولولئ.

## ستاسو په ژبه کې نور معلومات

موږ د دې موضوعاتو په اړه ستاسو په ژبه کې معلومات لرو

| د سرطان ډولونه | له سرطان سره ژوند کول |
|---|---|
| • د سينې سرطان<br>• د لويو کولمو سرطان<br>• د سږي سرطان<br>• د پروستات سرطان<br><br>**درملنې**<br>• کيموتراپي<br>• راديوتراپي<br>• جراحي عمليات | • سرطان او کرونا وايروس<br>• د سرطان په وخت کې د ګټو غوښتنه<br>• د خوړلو ستونزې او سرطان<br>• د ژوند پای<br>• سالم خوراک کول<br>• د مصارفو مرسته کله چې سرطان لرئ<br>• که ستاسو سرطان تشخيص شوی وی - لنډه لارښوونه<br>• اعظمي حساسيت يا سيپسيز او سرطان<br>• د سرطان د درملنې جانبي عوارض<br>• ستړيا (ستوماني) او سرطان |

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، **macmillan.org.uk/translations** ته مراجعه وکړئ

## حوالې او مننه

دغه معلومات د Macmillan د سرطان د ملاتړ د سرطان د معلوماتي پراختيا د ټيم په واسطه ليکل شوي دي. دا د ژباړې د کمپنۍ په واسطه ژباړل شوی دی.

دغه معلومات د Macmillan د کتابګوټي په اساس دي ***د سرطان د لګښتونو مرسته***. موږ کولای شو تاسو ته يوه کاپي واستوو، اما بشپړ کتابګوټی يوازې په انګليسي ژبه شتون لري.

د دغو معلوماتو بيا کتنه د اړونده متخصصينو له خوا ترسره شوې او د سين کانري، د Macmillan د هوساينې د حقونو او انرژۍ د لارښوونو د ټيم د مدير له خوا تصويب شوي دي.

له هغو خلکو څخه هم مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي او د دغو معلوماتو بياکتنه يې کړې ده.

زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو په اساس دي. د هغو سرچينو په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره چې موږ يې کاروو، په مهربانۍ سره له موږ سره د **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** له لارې اړيکه ونيسئ

MAC15139_Pashto

محتوی بيا کتل شوې: 2021

راتلونکي پلان شوي بياکتنه: 2024

موږ هره هڅه کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې موږ يې چمتو کوو دقيق او وروستي معلومات دي اما دا بايد ستاسو د وضعيت سره سم د مسلکي مشورې د بديل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځايه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، Macmillan په دې خپرونه کې د هر هغه معلوماتو د کارولو يا د دريمي ډلې د معلوماتو يا د وېب پاڼې د شاملو معلومات يا راجع شويو معلوماتو مسؤليت نه مني.

د Macmillan سرطان ملاتړ2022، په انګلستان او ويلز (261017)، سکاټليند (SC039907) او آئل آف مين (604) کې ثبت شوې خيريه موسسه. همداراز په شمالی ايرلنډ کې فعاليت کوي. د ضمانت په واسطه محدوده شوې کمپني، چې په انګلستان او وېلز کې په 2400969 شمېره ثبت شوې ده. آئيلز آف من کمپني نمبر 4694F. ثبت شوی دفتر: 89 Albert Embankment, London SE1 7UQ.

Trusted Information Creator

Patient Information Forum

Claiming benefits when you have cancer: Pashto

# Claiming benefits when you have cancer

This information is about claiming benefits when you have cancer. It covers:

- What are benefits?
- If you were not born in the UK
- If you have care or mobility needs
- If you cannot work or have a low income
- If you look after someone with cancer
- Help with housing costs
- If you are of pension age
- What to do next
- Getting the right care and support for you
- How Macmillan can help
- More information in your language
- References and thanks

We hope this fact sheet answers your questions.

You can also call Macmillan Cancer Support on freephone **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.

There is more information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

# What are benefits?

Benefits are payments from the government to people who need help with the cost of living. When you have cancer, you might be able to get benefits if you:

- are ill
- have a disability
- have a low income
- are looking after someone.

There are many different benefits. Here we explain some common ones.

## If you were not born in the UK

You may not be able to get some benefits if you:

- have come from another country to live or work in the UK
- are an asylum seeker.

The rules can be hard to understand and can depend on which country you and your family are from. You can call Macmillan on **0808 808 00 00** and speak to one of our welfare rights advisers for advice.

## If you have care or mobility needs

The benefits you can claim are different if you are above or below the State Pension age. This age depends on when you were born. You can find out your State Pension age at **gov.uk/state-pension-age**

- **Personal Independence Payment** is for people aged 16 to State Pension age who have problems with daily living or moving around. You must have had these problems for at least 3 months. You must expect them to last for at least 9 months.

- **Attendance Allowance** is for people who are at or above State Pension age. It is for people who have problems looking after themselves. This can be because of an illness or disability. For example, you might need help with things like getting out of bed, having a bath or dressing yourself. You must have needed this help for at least 6 months.

If your cancer cannot be cured, you may be able to get Personal Independence Payment or Attendance Allowance under special rules. These rules mean you will get the benefit quickly and at the highest amount. Your doctor or nurse can help you with this.

## If you cannot work or have a low income

- **Statutory Sick Pay** is for people who need to take time off from their job because they are ill. If you qualify for this, your employer must pay it to you each week. They will pay it for up to 28 weeks of illness.

- **Employment and Support Allowance** is for people under State Pension age who have an illness or disability that affects how much they can work. You may be able to get this benefit if you can only do a small amount of work.

- If you do not earn much money or cannot work, you may be able to get **Universal Credit**. This will depend on where you live. The way to make a claim will depend on where you live. If you live in England, Scotland and Wales, visit **gov.uk/universal-credit** If you live in Northern Ireland, visit **nidirect.gov.uk/universal-credit**

## If you look after someone with cancer

- **Carer's Allowance** is for people looking after someone with a lot of care needs. You must be aged 16 or over. You must be caring for the person for at least 35 hours a week. You do not need to be related to them or living together. You can get this benefit even if you do some paid work.

- **Carer's Credit** does not give you any money. But it helps protect your right to a State Pension later in life. You must look after at least one person for 20 hours or more a week to get it.

## Help with housing costs

- **Housing benefit** helps you to pay your rent if you have a low income. The amount you can get depends on where you live, your age and the number of bedrooms you have. Universal Credit (UC) has replaced Housing Benefit in most cases.

- If you are able to get **Universal Credit**, you might be able to get a payment to help with your rent or other housing costs.

## If you are of pension age

- **State Pension** is a weekly payment you can get from the government when you reach a certain age. This age depends on when you were born. You can find out your State Pension age at **gov.uk/state-pension-age**

- **Pension Credit** is for people who have reached State Pension age and have a low income. It gives you an extra amount on top of your State Pension.

## What to do next

In this information, we have only talked about some of the benefits that are available. It is a good idea to talk to one of our welfare rights advisers to see if you can claim any other benefits. You can call us free on **0808 808 00 00**. We can tell you more about which benefits you may be able to claim. We can also help you apply.

You can find more information and apply for benefits online. Visit:

- **gov.uk** if you live in England, Scotland or Wales

- **nidirect.gov.uk** if you live in Northern Ireland.

## Getting the right care and support for you

If you have cancer and do not speak English, you may be worried that this will affect your cancer treatment and care. But your healthcare team should offer you care, support and information that meets your needs.

We know that sometimes people may face extra challenges in getting the right support. For example, if you work or have a family it can be hard to find time to go to hospital appointments. You might also have worries about money and transport costs. All of this can be stressful and hard to cope with.

But help is available. Our free support line **0808 808 00 00** can offer advice, in your language, about your situation. You can speak to nurses, financial guides, welfare rights advisers and work support advisers.

We also offer Macmillan Grants to people with cancer. These are one-off payments that can be used for things like hospital parking, travel costs, childcare or heating bills.

## How Macmillan can help you

At Macmillan, we know how a cancer diagnosis can affect everything, and we are here to support you.

**Macmillan Support Line**
We have interpreters, so you can speak to us in your language. Just tell us, in English, the language you want to use. We can help with medical questions, give you information about financial support, or be there to listen if you need someone to talk to. The free, confidential phone line is open 7 days a week, 8am to 8pm. Call us on **0808 808 00 00**.

**Web chat**
You can send us a web chat message saying you would like an interpreter. Tell us, in English, the language you need, and we will arrange for someone to contact you. Click on the 'Chat to us' button, which appears on pages across the website. Or go to **macmillan.org.uk/talktous**

**Macmillan website**
Our website has lots of information in English about cancer. There is also more information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

We can also arrange translations just for you. Email us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** to tell us what you need.

**Information centres**
Our information and support centres are based in hospitals, libraries and mobile centres. Visit one to get the information you need and speak with someone face to face. Find your nearest centre at **macmillan.org.uk/informationcentres** or call us on **0808 808 00 00**.

**Local support groups**
At a support group, you can talk to other people affected by cancer. Find out about support groups in your area at **macmillan.org.uk/supportgroups** or call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan Online Community**
You can also talk to other people affected by cancer online at **macmillan.org.uk/community** You can access it at any time of day or night. You can share your experiences, ask questions, or just read through people's posts.

## More information in your language

We have information in your language about these topics:

| **Types of cancer** | **Living with cancer** |
|---|---|
| • Breast cancer<br>• Large bowel cancer<br>• Lung cancer<br>• Prostate cancer<br><br>**Treatments**<br><br>• Chemotherapy<br>• Radiotherapy<br>• Surgery | • Cancer and coronavirus<br>• Claiming benefits when you have cancer<br>• Eating problems and cancer<br>• End of life<br>• Healthy eating<br>• Help with costs when you have cancer<br>• If you're diagnosed with cancer – A quick guide<br>• Sepsis and cancer<br>• Side effects of cancer treatment<br>• Tiredness (fatigue) and cancer |

To see this information, go to **macmillan.org.uk/translations**

# References and thanks

This information has been written and edited by Macmillan Cancer Support's Cancer Information Development team. It has been translated by a translation company.

This information is based on the Macmillan booklet **Help with the cost of cancer**. We can send you a copy, but the full booklet is only available in English.

This information has been reviewed by relevant experts and approved by Sean Conroy, Macmillan Welfare Rights and Energy Advice Team Service Manager.

Thanks also to the people affected by cancer who reviewed this edition.

All our information is based on the best evidence available. For more information about the sources we use, please contact us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk**

MAC15139_Pashto

Content reviewed: 2021

Next planned review: 2024

We make every effort to ensure that the information we provide is accurate and up-to-date but it should not be relied upon as a substitute for specialist professional advice tailored to your situation. So far as is permitted by law, Macmillan does not accept liability in relation to the use of any information contained in this publication or third party information or websites included or referred to in it.

© Macmillan Cancer Support 2022, registered charity in England and Wales (261017), Scotland (SC039907) and the Isle of Man (604). Also operating in Northern Ireland. A company limited by guarantee, registered in England and Wales company number 2400969. Isle of Man company number 4694F. Registered office: 89 Albert Embankment, London SE1 7UQ.

Trusted Information Creator

Patient Information Forum